د افغانستان اسلامی جمهوریت
مالیې وزارت

# شتمنی

د مالیې وزارت اونیزه خپرونه

زموږ راتلونکی | زموږ هیواد | زموږ مالیه

شماره یک صد و شصت پنجم | یک شنبه | ۳۱ سنبله سال ۱۳۹۸ | سال تاسیس : ۱۳۹۴ هجری


## د مالیې وزارت سرپرست او د سویلي اسیا لپاره د نړیوال بانک مرستیال د خبرو اصلي محور د افغانستان له کورنیو سرچینو د انرژۍ تولید په برخه کې د خصوصي سکتور پانګونه وه



د ماليې وزارت سرپرست او د زېربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفيسور محمد همايون قيومي،د ۱۳۹۸لمريزکال د وږې مياشتې په ۲۲ مه نېټه د امريکا متحده ايالتونو واشنګټن ډي سي ته د سفر په مهال د سويلي اسيا لپاره د نړيوال بانک له مرستيال ښاغلي هارتويګ شيفر، سره د اړينو زېربنايي پروژو په پلي کېدو، د تېراو خبرې وکړې او په دې برخو کې د نړيوال بانک د همکاريو او ملاتړ غوښتونکی شو.

د سويلي اسيا لپاره د نړيوال بانک مرستيال، افغانستان ته د يادو برخو د ملاتړ او همکاريو ډاډورکړ.

همدا شان دواړو لوريو پرېکړه وکړه، څو د اړينو زېربنايي پروژو په برخه کې د خصوصي سکټور د پانګونې په




افغانستان له کورنيو سرچينو د انرژۍ په توليد، سيمه ايزې نښلونې سره د نړيوال بانک په ملاتړ، د زېربنايي پروژو په پلي کولو کې د خصوصي سکټور په پانګونه او د افغانستان له کورنيو سرچينو د انرژۍ د توليد او يو شمېر نورو ورته مسايلو په

څانګړې توګه د افغانستان له کورنيو سرچينو د انرژۍ توليد موضوع د نړيوال بانک او پيسو نړيوال صندوق په را روانو ناستو کې چې ټاکل شوې ده، راتلونکی اوکتوبر په واشنګټن ډي سي، کې تر سره شي، تر غور لاندې ونيول شي.

## عناوین مهم

ماليې وزارت سرپرست او د سويلي اسيا لپاره د نړيوال بانک مرستيال د خبرو اصلي محور د افغانستان له کورنيو سرچينو د انرژۍ توليد په برخه کې د خصوصي سکټور پانګونه وه



سرپرست وزارت مالیه : افغانستان تعهدات اصلاحی خویشرا مطابق به چارچوب حسابدهی متقابل موٴفقانه انجام داده است



امضای تفاهمنامه تجارتی میان افغانستان و قزاقستان



دافغانستان بریښنا شرکت د مدیره پلاوي ناسته وشوه




د امتیاز خاوند : شمروز خان مسجدی د عامه اړیکو ریس او ویاند
مســــــوول مدیر : داود نظری
کــــــــــتنپلاوی: فرید نوښت ، فردین معرفتی ،محبوبه بابری

تخنیکي همــــکار : ،عتیق الله عتیق، لینا شعیبی
دیزاینـــــــــــر :
بریښنالیـــــــــک : tamas@mof.gov.af

اړیکـــــــشمیرې: ۰۲۰۲۱۰۶۴۰۹

# سرپرست وزارت مالیه : افغانستان تعهدات اصلاحی خویشرا مطابق به چارچوب حسابدهی متقابل مؤفقانه انجام داده است





**محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء به تاریخ ۲۶ سنبله ۱۳۹۸ با محترم پیترپروگل، سفیر آلمان مقیم کابل در مقر وزارت مالیه دیدار نمود.**

در این دیدار، جانبین در رابطه به پرداخت قروض شرکت های آلمان توسط افغانستان، حل مشکلات پرداخت مالیات شرکت های که تحت قرارداد کمک های انکشافی آلمان در افغانستان فعالیت می نمایند، درج موضوع پرداخت مالیات در قراردادهای انکشافی این کشور به منظور حل این مسئله، کمک آلمان به افغانستان برای مهاجرین و بیجا شده گان داخلی و دیگر مسایل مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

همچنان در این نشست، در رابطه به تعهدات دوجانبهٔ کنفرانس جینوا نیز بحث صورت گرفت.سرپرست وزارت مالیه گفت که افغانستان تعهدات خویشرا مطابق به چارجوب حسابدهی متقابل کنفرانس جینوا در زمان معین آن انجام داده است.

سفیر آلمان گفت از اینکه افغانستان توانسته است تعهدات اصلاحی خویشرا در زمان معین آن تطبیق نماید، آلمان به افغانستان مبلغ ۸۰ میلیون یورو کمک خواهد کرد.

---

# امضای تفاهمنامه تجارتی میان افغانستان و قزاقستان



محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء بتاریخ ۲۷ سنبله ۱۳۹۸ به شهر پترو پاولسک جمهوری قزاقستان سفر نمود.

در این سفر سرپرست وزارت مالیه ضمن دیدار از تاسیسات تولیدی قزاقستان شمالی با مقات عالیرتبهٔ آنکشور و تجار قزاقی در مورد گسترش و تحکیم هرچه بیشتر مناسبات دوجانبه، افزایش معاملات تجارتی میان افغانستان و قزاقستان، حل مشکلات تجار افغان مقیم آنکشور، تفاهمنامه های تجارتی میان دو کشور و دیگر مسایل مرتبط بحث و گفتگوی مفصل نمود.

همچنان سرپرست وزارت مالیه با مقامات عالیرتبهٔ قزاقستان تفاهمنامه تجارتی دوجانبه را به امضاء رسانید که به اساس آن قزاقستان بیش از ۱.۶ میلیون تن گندم را برای ذخایر استراتیژیک افغانستان فراهم و برای اموال تجارتی افغانستان به شمول میوه جات و سبزیجات در سه شهر مهم روسیه بازاریابی نماید. در عوض حکومت افغانستان میوه جات، سبزیجات و سنگ های تزئینی را به قزاقستان صادر خواهد کرد.

# د افغانستان برېښنا شرکت د مدیره پلاوي ناسته وشوه



**د ماليې وزارت سرپرست او د زېربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام سترسلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي، په مشرۍ د۱۳۹۸لمريزکال د وږې میاشتې په ۲۵ مه نېټه د افغانستان برېښنا شرکت د مدیره پلاوي ناسته په ماليې وزارت کې وشوه.**

په دې ناسته کې ازبکستان څخه د سرخان – پلخمري برېښنا انرژۍ پروژې په پېرلو، د ۱۳۹۷ کال مالي راپور پلټنې په موخه د بهرنیو پلټونکو ګمارنې یا نوي کولو په څرنګوالي، د ترکمنستان له جمهوریت څخه د هرات، فاریاب، سرپل، جوزجان، بادغیس ولایتونو او اندخوی ولسوالي لپاره د برېښنا قرارداد په نوي کولو، د برېښنا انرژۍ پیرلو د خدمتونو او ثابتو جایدادونو پالیسیو په تصویب او د ۱۳۹۸ کال مالي پلان او بودیجې په تصویب هر اړخيزې خبرې وشوې او په اړه یې لازمي پرېکړې ونیول شوې.

## د ماليې وزارت سرپرست په افغانستان کې د هالند سفارت له سرپرست سره له افغانستان سره د یاد هیواد په پراختیایي مرستو خبرې وکړې



د ماليې وزارت سرپرست او د زیربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي، د ۱۳۹۸ لمریزکال د وږی میاشتې په ۲۵ مه نیټه په افغانستان کې د هالند سفارت له سرپرست ښاغلي اکربوم، سره وکتل.

په دې کتنه کې دواړو لوریو له افغانستان سره د هالند هیواد په پراختیایي مرستو، په دې برخه کې په شویو پرمختګونو، د افغانستان پراختیایي لومړیتوبونو ته په کتو سره د یاد هیواد په راتلوونکو مرستو، لسو روغتونونو ته د لمریزې برښنا په چمتو کولو او یو شمېر نورو اړوندو مسایلو خبرې وکړې.

د یادونې وړ ده چې د لمریزې برښنا د چمتو کولو لپاره به د نظر سنجۍ له مطالعې وروسته د هیواد په کچه لس روغتونونه وټاکل شي. په ټوله کې د دې پروژې لګښت ۲۰ میلیونه امریکایي ډالر دی چې لس میلیونه یې د هالند هیواد له لوري ورکول کیږي او پاتې نورې به یې د خصوصي سکټور یا هم د اړتیا په صورت کې د افغانستان حکومت له لوري تمویل شي.

## جلسه هیئت رهبری شرکای انکشافی بین المللی افغانستان روی محور پلان نظارتی چارچوب حسابدهی متقابل کنفرانس جینوا دایر گردید



جلسه هیئت رهبری شرکای انکشافی بین المللی افغانستان به تاریخ ۲۶ سنبله ۱۳۹۸ تحت ریاست مشترک محترم محمد ناصر صدیقی، رئیس عمومی همآهنگی، نظارت و گزارش دهی وزارت مالیه و محترم اتول کمار گپتا، نمایندۀ هیئت کمک های سازمان ملل متحد در افغانستان (UNAMA) در مقر وزارت مالیه دایر گردید.

در این جلسه در رابطه به پلان نظارتی چارچوب حسابدهی متقابل کنفرانس جینوا و طی مراحل مصارفِ خارج از بودجۀ ملی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

ریاست عمومی همآهنگی، نظارت و گزارش دهی وزارت مالیه مسئوده پلان جدید نظارتی را منحیث ابزار معیاری برای نظارت، ارزیابی و گزارش دهی از چگونگی تطبیق تعهدات دوجانبه با جامعه جهانی که در مطابقت به چارچوب حسابدهی متقابل کنفرانس جینوا تهیه شده است، برای شرکای انکشافی افغانستان معرفی نمود.

این پلان نظارتی میتواند در زمینه جمع آوری، ثبت، تحلیل و ارزیابی معلومات از جانب ارگان های تطبیق کننده تعهدات جنیوا و تهیه گزارش های مؤثق برای جامعه جهانی و رهبری حکومت افغانستان پیشرفت قابل ملاحظه بیارود و جوانب ذیدخل را در زمینه اتخاذ تصامیم بهتر و تخصیص وجوه تشویقی از جانب شرکای انکشافی کمک کند.

قابل تذکر است که پلان نظارتی چارچوب حسابدهی متقابل کنفرانس جینوا پس از دریافت و شامل ساختن نظریات شرکای انکشافی و نهادهای ذیدخل دولتی نهایی و مرعی الاجرا خواهد گردید

## اولین نشست آغاز روند اصلاحات در تصدی ها و شرکت های دولتی دایر گردید




اولین نشست آغاز روند اصلاحات در تصدی ها و شرکت های دولتی به تاریخ ۲۶ سنبله ۱۳۹۸ بهدف آوردن اصلاحات گسترده، بلند بردن عواید، رسیدن به خودکفايي و معرفي هیئت نظار شرکت های دولتی به ریاست محترم عبدالحبیب خُدران، معین اداری وزارت مالیه دایر گردید.

در این نشست، اعضای هیئت نظار شرکت های دولتی، رئیس عمومی تصدی ها، هیئت عامل تصدی ها، هیات عامل شرکت های دولتی و شماری از کارمندان وزارت مالیه اشتراك داشتند، در رابطه به صلاحیت ها و مسئولیت های هیئت نظار، چگونگی فعالیت های آینده و اصلاحات در تصدی ها و شرکت های دولتی، تغییر شخصیت حقوقی تصدی ها به شرکت های دولتی که قانون آن تصویب گردیده، جمع آوری عواید ملی، ایجاد کار و دیگر مسایل اقتصادی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم عبدالحبیب خُدران، معین اداری وزارت مالیه ضمن معرفی هیئت نظار و بیان فعالیت های تصدی ها گفت:" ما یک سال بالای قانون شرکت های دولتی کار نموده و آنرا نهائی ساختیم که توسط فرمان تقنینی جلالتمآب رئیس جمهور افغانستان به توشیح رسیده است. به اساس قانون شرکت های دولتی الی ۳۰ قوس سال جاری باید تمام تصدی ها به شرکت های دولتی تبدیل گردد" وی افزود:" ما متعهد به ایجاد اصلاحات در تمام شرکت های دولتی هستیم، که این اصلاحات باعث افزایش عواید ملی و کاریابی برای شماری زیادی از هموطنان خواهد گردید".

همچنان معین اداری وزارت مالیه خواستار تعدیل اساسنامه های تصدی الی اخیر قوس سال جاری گردید.

قابل تذکر است که از این به بعد مالکیت شرکت های دولتی و تصدي ها را وزارت مالیه به عهده دارد و هیئت نظار شرکت های دولتی متشکل از ۵ عضو بشمول وزارت مالیه، معین وزارت صنعت و تجارت

# د ښاغلي اجرائیه رئیس وروستیو څرګندونو په تړاو د مالیې وزارت غبرګون

په دې وروستیو کې اجرائیه رئیس ښاغلي ډاکټر عبدالله عبدالله چې د ولسمشرۍ له نوماندانو هم دی له اریانا تلوېزیون سره په یوه مرکه (مناظره) کې د مالیې په وزارت یو لړ تورونه پورې کړل. مالیه وزارت د هغه نظر ناسم بولي او په لاندې دلیلونو یې ردوي.

ښاغلی اجرائیه رئیس: مالیې وزارت په دوه عرادو لاریو دومره لوړه جریمه وضعه کړه، چې د موټر درې برابره اصلي ارزښت یې درلود، دغه جریمه د وخت په تېرېدو سره مضاعف او مضاعف کېده، موږ هرڅومره هڅه وکړه، چې مالیه وزارت دا موضوع حل کړي ولې له درې نیمو کالو په تېرېدو سره تراوسه هم نه ده حل شوې.

د مالیې وزارت ځواب: له ۱۳۸۱ کال راپه دېخو د نقلیه وسایطو د باقیاتو بڼه په ځانګړي توګه د بار وړونکو وسایلو، په داسي ډول ده چې دغو وسایطو خپلې مالیې نه دي ورکړي او خپل جواز سیرونه یې هم نه دي نوي کړي، په دې اساس په څو ناستو کې مو د دې سکټور له ټولنې او په وړاندیز مو د اقتصاد په عالي شورای کې خبرې وکړې.

د اقتصاد عالي شورای د ۷/۶/۱۳۹۸ نېټې نهمې ګڼې په ناسته کې د ځمکني ټرانسپورټ د ستونزو په حل د غړو له نظرونو اورېدلو وروسته په دې اړه لاندې پرېکړې وشوې.

د ځمکني ټرانسپورټ سکټور د مالیو د ستونزو حل په لاندې ډول تائید دی:

- له ۱۳۸۱ تر ۱۳۹۷ کال پورې د اضافي مالیو باقي لکه د مالیو نه ورکړه دې معاف شي؛
- د تېرو کلونو نه ورکړې اصله مالیه دې تر ۱۳۹۷ کال پورې ۵۰٪ معاف شي؛

د ۱۳۹۸ کال مالیې ورکړې سره دې، د تېرو کلونو پنځوس سلنه اصله مالیه په داسي ډول تنظیم شي، چې ۲۰ سلنه دې په روان کال او پاتې نوره دې په دریو راتلونکو کلونو کې ورکړه شي او دا بهیر دې له دریو کالو نه زیاتېږي. دغه طرحه دې د وروستۍ منظورۍ په موخه د کابینې ناستې ته وړاندې شي.

د ټرانسپورټ وزارت مکلف دی، چې د ټرانسپورټي شرکتونو له ټولنو (باروړونکو او مسافر وړونکو) او د وسایطو له خاوندانو څخه په یادو مواردو او په ټولو کړنو کې د قانونمندۍ منلو ژمنه واخلي.

بناء د اقتصاد عالي شورای د پرېکړې په نظر کې نیولو سره د دو لاریو مضاعفه جریمه صحت نه لري.

ښاغلی اجرائیه رئیس: د مالیې وزارت سرپرست ۴۰ پاڼې طرحه چمتو کړې وه، چې غوښتل یې له نړیوالې ټولنې له ۸ میلیارده زیات پور ترلاسه کړي. هغه نړیوالې ټولنې ته ویلي وو، چې موږ نور د نړیوالو مرستو ته اړتیا نه لرو، دغه موضوعات د مالیې وزیر د څارنې او همغږۍ (JCMB) په ګډ بورډ کې وړاندې کړل. ولې نړیوالو همکارانو دا رد کړه او ویې ویل ، څه چې تاسو غواړئ موږ در سره موافق نه یو. هغو په طعنه وویل، چې تاسو د ۲۰۱۹ کال پلان ښه پلی کړی، چې اوس غواړئ د ۲۰۳۰ کال پلان را ته وواياست.

د مالیې وزارت ځواب: د څارنې او همغږۍ ګډ بورډ کې چې اقتصادي لید لوری وړاندې شو، په حقیقت کې د اقتصادي ودې د ستراتېژۍ عمل پروګرام دی، چې حکومت هغه د جینوا په کنفرانس کې وړاني کړی وو. د جینوا له کنفرانس وروست مالیې وزارت د حکومت له اړوندو ګڼو وزارتونو سره په همغږۍ، دغه د عمل پلان ترتیب او له مرسته کوونکو سره یې په څو ناستو کې شریک کړ او د هغوی نظرونه یې په کې ګډ کړل.

په ځان بسیا افغانستان د لید لوري په ټینګار، د عمل په دې پروګرام (بستې) کې پروژې څو ځله په پام کې نیول شوې دي چې د افغانستان ملي عواید یې لوړ کړي دي او ډېرو هیوادوالو ته د کار موندنې سبب ګرځېدلې. دغه پروژې د خصوصي پانګونې او پورونو یوه مختلط مډل له لارې تمویلېږي او تر هغو پروګرامونو چې اوس یې ډونران تمویلوي ډېرې لوړې دي. دغه ټولې پروژې د تخنیکي ارزونې له پړاونو وروسته منظورېږي. مالیه وزارت اوس د دې پروژې په شرح باندې کار کوي.

همدا شان د مالیې وزارت سرپرست د څارنې او همغږۍ ګډ بورډ په ناسته کې په هیڅ وجه او په هیڅ اړخ کې نړیوالې مرستې نه دي رد کړي، بلکه هغه په ټینګار سره له نړیوالې ټولنې غوښتنه کړې ده، چې مرستې دې د افغانستان له لومړیتوبونو سره په همغږۍ ولګوي. همدا شان نوموړي ټینګار کړی دی، چې په هغو پروګرامونو دې کار وشي چې له افغانستان سره په ځان بسیاینه کې مرسته وکړي.

له بل اړخه د څارنې او همغږۍ ګډ بورډ په ناسته کې مرسته کوونکو د افغانستان اقتصادي ودې ستراتېژۍ عمل پروګرام ردولو ته هیڅ ډول اشاره نه ده کړې. د ښاغلي اجرائیه رئیس د څرګندونو په خلاف نړیوالې ټولنې د ژمنو پلي کولو د پرمختګ په برخه او له نړیوالې ټولنې سره د حکومت د تعامل هر کلی کړی دی.

همدا شان مالیې وزارت د ټولو مرسته کوونکو مشرح نظرونه اخیستي دي، چې یو شمېر تخنیکي پوښتنې هم پکې شته دي. دا له دې پلان سره د نړیوالې ټولنې د لېوالتیا ښکارندویي کوي. مالیه وزارت به ډېر ژر د دې پوښتنو په برخه کې د بحث لپاره تخنیکي ناستې جوړې کړي. په دې سربېره ځینو مرسته کوونکو یادونه کړې ده، چې د مرستو اوسنۍ کچه د افغانستان لپاره پایداره نه ده او زیان منونکې ده. په همدې اساس حکومت دې د افغانستان دوامداره مالي او پراختیایي ودې ته په ځانګړې توګه د خصوصي سکټور لپاره تمویل په پام کې ونیسي.

مرستندویانو د سکټورونو د لومړیتوبونو، چې د عمل په پروګرام کې یې یادونه شوې ده، هرکلی کړی او د تمویل پروګرام او د مډل په لا ښه پلي کولو باندې د زیات کار غوښتونکي شول. همدا شان به مالیې وزارت د پورونو په برخه کې له ځینو پراختیایي شریکانو سره په همکارۍ کار پیل کړي. د څارنې او همغږۍ بورډ په برخه کې چې کومه خبرتیا خپره شوې ده، د ټولو ګډونوالو له لوري تائید شوې ده. دا خپله د مالیې وزارت د عمل پروګرام په برخه کې د نړیوالې ټولنې تائیدي ده.

د مالي پانګې اچونې بستې مختصر مشخصات: د مالي پانګې اچونې بسته د فزیکي زېربنا عمده برخو، کرنې او کلیو پراختیا ته پاملرنه کوي. دغه بشپړه بسته به ۸،۷۰۴.۵ میلیونه امریکایي ډالرو پانګونې ته اړتیا ولري، چې له پانګونې څخه به یې ۶۶ سلنه د اوبو او کرنې، ۱۵ سلنه د برېښنایي زېربنا او ۱۹ سلنه د ښار جوړونې لپاره ځانګړې شوې ده.

د پانګې د مجموعي له وجوې، ۵،۸۵۰.۶ میلیون ډالره (۶۷ سلنه) یې دولت پانګونه کړي او پاتې ۳۳ سلنه به یې د خصوصي سکټور ونډه وي.

د کرنې په سکټور کې د خصوصي او ټولنیز سکټور پانګونه په مزرعه یې بڼه وي او د ښاري پراختیا په سکټور کې د خصوصي سکټور پانګونه، پانګوال د استوګنیزو، سوداګریز او صنعتي جایدادونو لپاره مخکې ورکړې لري.

د یادې بستې پلي کولو موده ۹ کاله ده او د دولت د پانګونې ۸۰ سلنه به په پنځو لومړیو کلونو کې تر سره شي. د دې بستې بریالي اجرا کېدل به ۱،۴۸۳،۴۷۲ کاري فرصتونه رامنځ ته کړي، چې د هرې کاري دندې ټولیز لګښت ۵،۸۶۸ میلیون امریکایي ډالره کېږي.

پردې بستې د پانګونې د مجموعي له مخې به د دولت د عوایدو منځنی حد په لومړیو لسو کلونو کې ۹۴۸.۹ میلیونه ډالره وي. په داسي حال کې چې له لسو کالو وروسته به د دې بستې را ټول شوي عواید په منځني ډول په کال کې تر ۲۰۵۰ کال پورې ۱،۸۸۱.۴ میلیونه امریکایي ډالره وي. د تر لاسه شویو عوایدو اصلي سرچینې عبارت دي د شرکتونو په عوایدو مالیات، صادرات او په جایدادونو مالیات دي.

ښاغلی اجرائیه رئیس: د دې وزارت په ځانګړي توګه د عوایدي سرچینو (ګمرکونو او عوایدو) په تړاو د مالیې وزارت وړاندیز او ولسمشر حکم استثنا دي، د کشفي ارګانونو له بررسۍ او پلټنې له ادارو په بشپړه توګه غیری قانوني اړخ لري.

پاسخ وزارت مالیه: د مالیې وزارت د مکتوب پیغام او محتوا چې د دې وزارت 4877 ګڼې 1394/12/16 نېټې مکتوب په تعقیب او د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې 1393/8/1 نېټې د ۳ مې ګڼې مصوبې له هدایت سره پوره مطابق لري. نه یواځې دا چې د دولت له کاري پالیسۍ سره په ټکر کې نه دی بلکه د ادارو په کړنو کې د ښه والي، روڼتیا او اغیزمنتوب سبب شوی چې د پراختیایي بودیجې د لګښت او د ملي عوایدو د راټولیدو په برخه کې د مالیې وزارت وروستۍ لاسته راوړنې د دې حقیقیت ښکارندویي کوي.

د روان مالي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې تر اوسه د دولت پراختیایي بودیجه ۴۲ سلنه لګول شوی ده. دا په داسې حال کې ده چې تېر کال د چنګاښ میاشتې تر ۱۶مې نېټې پورې پراختیایي بودیجه ۳۵ سلنه لګول شوی وه. همداشان د روان کال له پیل څخه تر اوسه پورې له ۱۰۰ میلیاردو افغانیو څخه زیات ملي عواید راټول شوي دي چې تېر کال په همدې نېټه ۸۷ میلیارده افغانۍ ملي عواید راټول شوي وو.

د یاد مکتوب له صادرولو څخه د مالیې وزارت موخه د دې وزارت په ځانګړو چارو په ځانګړې توګه په عوایدي سرچینو کې د نورو ادارو له مداخلې څخه مخنیوی دی چې د ګمرکونو قانون، پر عایداتو د مالیاتو قانون او د هیواد نورو تقنیني سندونو سره سم د مالیې وزارت له دندو او مسؤلیتونو څخه شمیرل کیږي.

په نورو برخو کې چې له عوایدي سرچینو څخه کنټرول، نظارت، بررسۍ او همداشان له فساد سره مبارزه ده د مالیې وزارت یې د هیواد نافذه قوانینو په رڼا کې ملاتړ کوي او له اړوندو ادارو سره هر اړخیزه همکاري او همغږي کوي او کړې یې ده.

په همدې اساس د یاد مکتوب له صادریدو څخه موخه د مالیې وزارت په ورځینو چارو کې د غیر قانوني مداخلو مخنیوی، د بي ځایه بروکراسي او د دې وزارت عادي فعالیتونو له مختل کولو څخه مخنیوی، د مالیې وزارت د واحدونو کاري بهیر چټکتیا او دې ته ورته نور موضوعات دي.

یادو ټکو ته په کتو سره، په داسې حال کې چې مالیې وزارت د عایداتي واحدونو له اجرااتو څخه جدي نظارت او پلټنه د دې وزارت په لومړیتوبونو کې ده، د کارکوونکو او مسؤلینو نا وړه ګټه اخیستنه او تخلف په دقت سره څاري او په دې برخه کې له امنیتي او کشفي ادارو او همداشان له عدلي او قضایي ارګانونو سره ټینګې اړیکې او اغیزمنه همغږي لري